# د قافيې موسيقي

لعل پاچا ازمون*

**Abstracts:**

Rhyme scheme plays a crucial role in a poem's musicality. The harmonious part of rhyme scheme and its prior part provides letters movement and their repetition pave the way for poem musicality.Rhyme scheme as Rhythm contributes external and moral musicality of a poem.The rhyme scheme in a poem is a rhythmic mixture among letters which compliments the meaning, rhythm, and imagery of a verse of a poem. Rhyme scheme gives a natural flow to a poem. Rhyme scheme plays a significant role in conveying a message, memorizing and learning a poem.The rhyme scheme is a backbone part of a poem of which the letters revolves around and injects dynamism in it.

د قافيې موسيقي تر سرليک لاندې ليکنه کښې غواړم چې په نظم کښې د قافيې موسيقيت څرګند کړم. دلته به دا څرګنده شي چې قافيه د نظم په معنوي او لفظي برخه کښې څۀ ارزښت لري؟

ما تر خپله وسه دا هڅه کړې ده چې په نظم کښې د قافيې دريځ او ارزښت د لفظ او مانا له مخې څرګند کړم.

تر دا مهاله د قافيې په جوړښت او نورو بېلابېلو خواوو ليکنې شوې دي، خو دا چې قافيه د شعر په جوړښت او خوږلنې کښې څۀ ارزښت لري؟ کومې لفظي او معنوي ښېګنې لري؟ او په نظم کښې ئې شتون اړين دی که نۀ؟ څۀ ډول موسيقي جوړوي؟ دا او دې ته ورته پوښتنې به په دې ليکنه کښې يو څۀ ځواب شي.

د ليکنې موخه يوازې او يوازې داده چې د نظم په معنوي او لفظي جوړښت کښې د قافيې شتون او اړتيا را برسېره شي او هم ئې ښکلاييز او معنوي ارزښت په ډاګه شي. بله موخه هم داده چې څرګنده کړو چې قافيه وال نظم په برخه کښې د انځور جوړولو، فکر او تخييل په پارونه کښې څۀ ونډه لري.

* Prof. Kabul University, Kabul Afghanistan.

**اصله موضوع**:

مضـــــــمون د شـــــــعر لکـــــــه پیکـــــــر دی
رنګـــــین الفـــــاظ ئـــــې رخـــــت و زېـــــور دی
ورتـــــــه پکـــــــار دي دا دواړه توکـــــــــــه
پیکـــــر کـــــه هـــــر څـــــو دلربـــــا تـــــر دی"(۱).

دا د پښتو ژبې د پیاوړي او نازک خیال شاعر کاظم خان شیدا هغه سندریزه وینا ده چې د شعر ارزښت ئې په کښې څرګند کړی دی. په دې تعریف کښې پر مضمون سرپیره د الفاظو په رنګینۍ حساب شوی دی، رنګین الفاظ رخت و زېور ګڼل شوي دي.

شعر د لفظونو سندریزه وینا ده، د شعر ښکلا په الفاظو کښې نغښتې، شعر د خبرو هنر دی. په رنګینو الفاظو کښې د مضمون وړاندې کول؛ د شعر د فکر و خیال عاطفي تړون دی. په الفاظو کښې معنا نغښتې او موسقیت ئې د غږونو یو ګډ اهنګین امتزاج دی.

لومړی راځو قافیې ته؛ قافیه ((د عربو په لغت کښې وروسته،شا ، څټ او ورپسې تلوونکي ته وایي او په اصطلاح کښې هغه پوهنه ده چې د بیتونو د دورونو د پای د کلیمو له همغږیو څخه بحث کوي. یا په بله وینا د مصرع بیت د هرې مصرې اود غېرې مصرع د هر بیت د پای کلیمه چې شعر وربانذې ختمیږي او اعاده ئې په ورپسې بیتونو کښې لازمه وي قافیه بلل کیږي... هغه کلیمې چې د دورونو په پای کښې لازمه هم اهنګي ولري د قافیې کلیمې ئې بولي"(۲).

قافیه دنظم په خاصه او وروستۍ برخه کښې دیو واحد یا څور توریو اهنګین تکرار دی.

قافیه معنوي او لفظي ښکلا لري، قافیه د وزن په برابرښت کښې ونډه اخلي، د شعر داخلي او بهرنۍ موسیقي د قافیې او نورو توکو په راوړو بشپړیږي.

قافیه هم دمترنمو لفظونو دپاره یو پیکر دی، دشیدا دځلوریزې پر مصداق قافیه دقافیه وال نظم رخت وزیور کښې راځي، قافیه دنظم بهرنۍ موسیقي جوړوي.

قافیه دتوریو په اهنګین اوډون رامنځته کېږي، دغه اوډون یوه ځانګړې موسیقي رامنځته کوي. نو ځکه خو نیما یو شیج ((بې قافیې شعر بې هډوکیو سړی بولي"(۳).

((مایا کوفسکي په دې عقیده دی چې قافیه باید دشعر تر ټولو کلماتو غښتلې او بنسټیزه وي، ځکه چې شعرونه یو له بله سره پیوندوي، پر همدې بنسټ هغه توکي

چې قافیه رامنځته کوي، اړینه ده چې تر نورو توکیو چې دشعر په جوړښت کښې کاربدلي، قوي وي، دی وایي له قافیې پرته شعر مات او زیانمنېږي"(۴)

قافیه د تصویر په جوړولو اود یو ځا ذهن ته د موضوع په تداعی کښې ونډه اخلي. قافیه د شعر د رنګینی او خیال بافی جامه ده. قافیه پېژندونکو د قافیې همغږي په روي کښې وینې اود دوی له نظره د قافیې نور توري هم د همدې همغږی په اواز تړل کیږي. دلته دحمید بابا دغزل یو دوه بیته رااخلو چې قافیه ئې دانځور جوړولو مرکزي برخه ده:

لکه څوک چې په ځا توره نیم کښو کا
هسې سهم راکوي ستا مړوندونه
دحمید په څېر بلبل به په کښې نۀ وای
که ګلزار نۀ وای په ښکلیو سربندونه"(۵)

په دې بیتونو کښې (ندونه، ندونه) همغږې برخه ده، دغې همغږې برخې دشعر موسیقي تړلې، او بل دا چې د قافیې له عیبه هم پاک دي، که مفردې بڼې ته واوړي نو هم همغږي لري، دې همغږی دشعر ژبه شاعرانه کړې او نوی انځورونه ئې زېږولي، په لومړي بیت کښې خبره په مړوندونه کښې ده،مړوندونه له تورې سره تشبیه شوي دي، دې تشبیه یو حسي انځور رامنځته کړی دی. حسي کلمې په تېره قافیې دشعر نورو توریو ته حرکت او شور ورکوي.

په دویم بیت کښې (سربندونه) دانځور جوړولو دپاره دیو حرکت لامل ګرځېدلی دی، دلته حمید له بلبل سره دهمدې سربندونه له امله تشبیه شوی دی.

قافیه د هر بیت اساس جوړوونکی توکی دی، د قافیې پر مدار په لفظونو کښې تصویرونه څرګندیږي. روي بیا د قافیې هغه توری دی چې د قافیې زړی جوړوي. د خوشحال بابا یو غزل دی:

هغه مخ چې ښایسته د ننداړو وي
چې ئې وینې په هر ځا پسې هو هو وي
د بلبلو د بلغاک نه درلګیږ مه شه
هغه ځای چې رنګ د ګو وي ګفتګو وي
که هر څو ښایسته ډیر دي ګومان نۀ کړم
چې به بله ښایسته پاکیزه رو وي"(۶)

د دغـه غـزل د دورونـو پـه پـای کښــې د قــافیې کلیمــې ننــدارو، هــو-هــو، ګفتګــو، رو رو او... دي. هماهنګه برخه ئې یوازې (و – ٥) یو خپلواک غږ او ساکن دی.

تر قافیې وروسته (وې) چې په تکراري بڼه راغلی ردیف بلل کیږي.

پـه دغـه غـزل کښـې قافیـه او ردیـف دواړه لفظونـه او تـوري پـه اهنګـین مـزي تـړي او هره بیت بشپړوي.

د قافیې کلیمې او ردیف د دې غزل موسیقي جوړوي.

وړانـدې تـر دې چـې د قــافیې موسـیقي راوسـپړو اړینـه ده چـې لـومړی د قــافیې او موسیقۍ په تړاو او هم په کلام کښې د قافیې پر ارزښت او ګټو وغږیږو.

موسـیقي د انسـان د ذهـن او زړۀ تارونـه غـږوي او د لوسـتونکي پـر ذهـن بانـدې یـو سـندریز اغیـز ښـیندي، پـه موزونـو لفظونـو او اهنګوالـو غږونـو پـر اوږدون د خلکـو د رابللـو یـو لامـل هـم موسـیقي ده. د کـلام موسـیقي د غږونـو د امتـزاج او کلیمـو لـه ګـډ اهنګـین ترکیبـه رامنځتـه کیـږي. موسـیقي د انسـان پـه روان کښـې ده، تـوري او غږونـه تـړي، لنـډې او اوږدې څپـې، متجـانس تـوري او غږونـه سـره یوځـای کـوي؛ د دغـه یـو ځـای والـي نـه د شـعر موسیقي رامنځ ته کیږي.

قافیـه بیـا پـر یـاد تعریـف سـربیره د تـورو غږیـز تـړون او متجانسـو کلیمـو او غږونـو یو اوږدون دی.

پـه شـعر کښـې داخلـي او بهرنـۍ موسـیقي د لوسـتونکي او اوریـدونکي پـام ځانتـه را اړوي او پـر هغـه یـو اغیـز ښـیندي، د شـعر دا خلـي موسـیقي د شـعر لـه معنـوي او لفظـي تصویرونو او اړخونو رامنځته کیږي. بهرنۍ موسیقي ئې وزن، قافیه او ردیف جوړوي.

ردیـف اوقافیـه دواړه د شـعر د موسـیقۍ بشـپړوونکي دي. قافیـه د شـعر د وزن او اهنـګ پـه برابرولـو او ردیـف بیـا د قــافیې سـره یوځـای د نظـم دهربیـت پـه بشـپړولو کښـې مرسته کوي.قافیه د نظم ټول توکي په یوه اهنګین مزي پیيي.

**د قافیې ګټې:**

د قافیې له برکته یو شعر ژر زده کولی شو.

قافیه د نظم د شکل او فورم په رامنځته کولو کښې برخه اخلي.

د تورو اوکلیمو اهنګین ترکیب قافیه برابروي.

تـر روي وړانـدې حرکـت د قــافیې موسـیقي برابـروي. منـی، ژمـی دوې هـم قافیـه کلیمـې دې، ګـډ تـوری یـا غـږ ئـې (ی) دی، تـر (ی) وړانـدې د(مـه او ژه) حرکـت زور دی، دلتـه

نـهٔ يـوازې (ی) د دې دواړو کليمـو موسـيقي برابـره کـړې، بلکـې تـر (ی) وړانـدې حرکـت د موسيقۍ په برابرولو کښې زياته ونډه اخيستې ده.

تـر روي وړانـدې د حرکـت نـهٔ برابروالـی نـهٔ همغـږي رامنځتـه کـوي، دې تـه دقـافيې پـه عيبونـو کښـې داقـوا عيـب وايـي، دغـه نـهٔ همغـږي د شـعر موسـيقي کمـزورې کـوي. لکـه در واخلې دپسرلي صـاحب پـه يـو غـزل کښـې چـې يـوه بيـت ئـې لـه نـورو سـره دموسـېقۍ برخـه کمزورې کړې ده:

پـــــه خـــــدای مـــــې ســـــپارم مســـــافرې اوښـــــکې
زمـــــا لـــــــه زړهٔ ځخـــــــه خبـــــــرې اوښـــــکې
ســـــتوري کرمـــــه ګونـــــډې لمـــــر وربېمـــــه
زړهٔ مـــــې تړلـــــی دی پـــــه هـــــرې اوښـــــکې
دتـــــا پاســـــته زړهٔ تـــــه ئـــــې لاړ ونـــــه کـــــړه
مـــــاوې ســـــورۍ بـــــه کـــــړي ډبـــــرې اوښـــــکې
پســـــرليه نـــــهٔ شـــــوه مســـــلمانه راتـــــه
ورتـــــه مـــــې تـــــوئې کـــــړې کـــــافرې اوښـــــکې"(۷)

پـه دې غـزل کښـې( مسـافرې، خبـرې، هـرې، ډبـرې، کـافرې) دقـافيې کلمـې دي. اوښـکې ئـې رديـف دی. همغـږه برخـه ئـې ( رې) ده، روي ئـې (ر) غـږ دی، تـر روي وړانـدې دنـورو توريـو يـا غږونـو حرکـت زور يافتحـه ده، خـو يـوازې پـه( کـافرې) کښـې فـه روي وړانـدې حرکـت زيـر يـا کسـره ده، دې غـږ لـه نـورو سـره دموسـېقۍ برخـه کمـزورې کـړې ده، دلتـه ويناوال يـا سـندربول اړ دی چـې پـه کـافرې کليمـې کښـې تـر روي وړانـدې تـور هـم پـه فتحه يا زور ولولي.

پـه دې غـزل کښـې د هـر بيـت قافيـه دبيـت سـندريز شـور او موسـېقي لـه رديـف سـره پـه پخلاينـه او همغـږۍ موسـېقي برابـروي، دقـافيې همغـږې برخـه( رې) د دريـف لـومړۍ څپه( او) په حرکت او شور روالي.

بهترينـه قافيـه هغـه ده چـې غږونـه او تـوري سـره همغـږي وي، د قـافيې تکـرار د موضوع او تصوير بڼه بدلوي، خو ايطا عيب هم ګڼل کيږي.

هســـــې رنګـــــه ئـــــې پـــــه دا دردانـــــه غـــــوږ شـــــي
نـــــهٔ دې غـــــوږ د چـــــا پـــــه غـــــږ شـــــي نـــــهٔ دې غـــــوږ شـــــي

دحمید مومند دشاه ګدا مثنوي د (شاه په نوم دخسرو خط) تر سرلیک لاندې په دې بیت کښې د (غوړ، غوړ) دقافیې کلمې دي او (شي،شي) ئې ردیف دی چې دقافیې دکلمې دغه دوه ډوله کارول څرګنده ایطا ګڼل کېږي"(۸)

په دې مطلع کښې دلومړۍ مصرعې غوړ له دردانې سره دښایست یو انځور او په دویمه مصرعه کښې بیا دقافیې غوړ یوازې دنوم دپاره کارول شوی، په لومړۍ مصرعه کښې دردانه دغوړ او په دویمه کښې غر دغوړ ښایست او ارزښت ټاکي. په لومړۍ مصرعه کښې د (ې) او (ا) غږونو تکرار او په دویمه کښې د (غ، ړ، ې، ي) توریو تکرار دټول بیت موسیقي برابروي، دغه ټول غږونه او توري دکلام دموزنوالي دپاره دقافیې کلمې او ردیف سره په یوه موسیقال غږ تړي.

د قافیې په تکرار کښې که تصویر او معنا نوې وي خو ښه، ګني موسیقي ئې تکراري ده.

قافیه پر اوږدونکي د موضوع او تصویر د نوي والي په لحاظ داسې اغیز ښیندي چې اوږدونکی د همغږو تورو له لارې د راتلونکي بیت تصویر او معنا په تمه وي.

په ردیف وال نظم کې ردیف د بیت معنوي او تصویري برخه بشپړوي، اوږده ردیفونه هم د نظم یوه ځانګړې موسیقي برابروي، په دې برخه کښې د استاد حمزه د غزل کمال وینئ. هغه د اوږدو ردیفونو او قافیې په پخلاینې سره د شعر یوه ځانګړې موسیقي برابروي.

ګوره چې خندا کوي په سترګو کښې
کار د مسیحا کوي په سترګو کښې
یو ته قهر بل ته مهر شاباسې
دا کوي هم دا کوي په سترګو کښې
ای نظره نن ئې تصور شو جوړ
څه شوې تماشه کوي په سترګو کښې
اوښکو دې کافور کړه د هجران نشه
قدحه د صحبا کوي په سترګو کښې"(۹)

په دې غزل کښې (خندا، مسیحا، دا، تماشا، صحبا، بیګا، ریښتیا، وینا، اشنا، ښکنځا) د قافیې کلیمې دي او (کوي په سترګو کښې) ئې ردیف دی.

د قــافيې او رديــف تــر مــنځ پخلاينــه او تــر هغــې وړانــدې د نــورو کليمــو حرکــت د قــافيې لــه مخې يــوه ځــانګړې موســيقي جــوړوي. کــه دغــه قــافيې وباســو او پــر ځــاى ئــې نـورې قافيې او کليمې راوړو نو د شعر لفظي اومعنوي موسيقي دواړه ګډ وډه وي.

د دغــه غــزل د قــافيې د وروســتۍ برخــې يــا تــورو غږيــدا يــوه ځــانګړې موســيقي برابره کړې چې په همدې اوږدېدا ځان له رديف سره همغږې کوي.

پــه دې قافيــه کښــې (ا) چــې روي دى ځــان د رديــف ســره همغــږې کــوي او د وينــا موسـيقي برابـروي، تـر روي وړانـدې د تـورو حرکـت د ځينـو نـورو توروسـره خپلـه موسـيقي برابـره وي. پـه همـدې غـزل کښـې ځينـې مسجع او مقفـى لفظونـه لکـه قهـر او مهـر او همـدا رنګـه پـه ځينـو مصـرو کښـې د تـورو تکـرار، لکـه پـه لـومړۍ مصـره کښـې د اوږې يـا (ې) او څرګنـدې يـا (ي) تکـرار، همداسې پـه دويـم بيـت کښـې دا کـوې همـدا کـوې پـه کښـې د اوږدې (ې) تکـرار پـه دريـيم بيـت کښـې هـم د (ر)،(ې) او (ي) تکـرار پـه ټولـه کښـې د دغـو تـورو سيلابيز ورته والى د شعر موسيقي ټاکي.

همدارنګـه د اسـتاد حمـزه پـه يـوه بـل غـزل کښـې د اوږده رديـف او قـافيې پخلاينـې غزل ته يوه ځانګړې موسيقي ورکړې ده.

ټينګـــــه پـــــه وعـــــده نـــــهٔ شـــــوې دا څـــــهٔ چـــــل دى
کلکـــــه پښـــــتنه نـــــهٔ شـــــوې دا څـــــهٔ چـــــل دى

پـه دې غـزل کښـې (وعـده، پښتنه،سـره،ډيوه، سـتنه، خـوره) د قـافيې تـوري دي چې د ټولوهمغږې برخه ئې (ه) ده. (نهٔ شوې دا څهٔ چل دى) رديف دى.

د قـافيې معنـوي او لفظـي جوړښـت د شـعر تصـوير اوموسـيقي جـوړه کـړې ده، لـه وعـدې سـره د ټينـګ صـفت او بيـا پـر وعـده د پښـتنې دريـدا هغـه تصـوير دى چـې قافيـه پـه کښې ځان په مرکزي بڼه راڅرګندوي.

همدارنګـه پـه نـورو بيتونـو کښـې د مصـرع او نامصـرع مصـرې تـر مـنځ تـړون د قافيې له مخې شوى او د کلام لفظي موسيقي ئې برابره کړې ده.

پـه لـومړي بيـت کښـې د (ه) تکـرار د مطلـع موسـيقي جـوړوي او همدارنګـه پـه نـورو مصـرع مصرو کښـې لـه قـافيې سـره د نـورو کليمـو د (ه) پـه تکـرار کښـې موسـيقي جـوړوي. دلتـه بيـا پـر قـافيې سربېره د رديـف جمـال اوکمـال هـم دادى چـې هـم ئـې دشـعر ښـکلا برابـره کړې او هم ئې دنظم موسيقۍ او وزن تړلى او بشپړ کړى دى.

قافیه د نظم بیروني موسیقي جوړوي، خو تر څنګ ئې د داخلي موسیقۍ سره د کلیمو او لفظونو په برابرولو کښې هم ځان همغږي کوي، قافیه د نظم په وروستي برخه کښې د یوه واحد توري همغږي تکراروي.

قافیه د شعر د موسیقۍ په برابرولو کښې څو توکي ساتي، لومړۍ د غږ شدت، هر څومره چې د غږ لړزه زیاته وي غږ قوي وي او دا د دې لامل کیږي چې د تورو تر منځ اوږدې فاصلې لرې کړي.

دویمه برخه د غږ او لړزې دوام دی، د غږ او لړزې په دوام کښې د قافیې موسیقي ځان رابښیي، دریم زیر او بمې یا د غږ جګ والی او ټیټ والی دی. هره څومره چې د قافیې د تورو غږ او لړزاوې زیاتې وي غږ زیر او که کم وي نو غږ بم وي.

وینګ یا ویل هم د موسیقۍ په برابرولو کښې اهمیت لري، که قافیه د مصرعې د کلیمې غږونه د تراژیدۍ په رنګ ورنګوي وینا ئې لړزوونکې او زړه رابښکوونکې موسیقي ځانته غوره کوي او که چیرې مست حرکت په کښې وي نو د کمیډۍ رنګ اخلي.

دا کوي همدا کوي په سترګو کښې" (۱۰)

یو خندونکی او زړه رابښکوونکی حرکت دی.

که دوه غزلې یا قصیدې یا د نظم کوم بل فورم په یوه وزن وي خو قافیې ئې سره بیلې وي، نو د ویلو پر مهال ئې هم د موسیقۍ اغیز بیل وي، دغه اغیز هم د قافیې له اختلافه زیږي، چې هر یو ځانته ځانګړی اهنګ لرې:

چې د نظر سره دې مل نهٔ شومه
څهٔ خوش قسمته وم چې غل نهٔ شومه
قرار مې نهٔ شته په ګردش یمه زه
فلکه ستا په ژرنده دل نهٔ شومه
حسنه بې شک چې دې بدل نهٔ شته
ته که بدلیږې زهٔ بدل نهٔ شومه
وریږې تل شومه د اوښکې په رنګ
دُر د اشنا د زړهٔ د تل نهٔ شومه
تیر شوم له عشق حال سوال شومه اوس
څو ځله حل شومه خو حل نهٔ شومه

که پــــه ژونــــدون دې زمـــا اور بـــل کـــړ
ځـــۀ چـــې لـــوګی دې د وربـــل نـــۀ شـــومه
حمـــزه ځـــواني زمـــا غـــزل اوخـــوړه
خـــامي مـــې دا ده چـــې غـــزل نـــۀ شـــومه"(۱۱)

په همدې وزن او بحر کښې دحمزه بابا يو بل غزل را اخلو:

لاڅـــو تښـــی د ګرېوانـــۀ پـــاتې دي
وحشـــته ســـتا پـــه زړۀ کښـــې ځـــۀ پـــاتې دي
دا خـــو تـــه ولولـــه چـــې ســـترګو کښـــې دي
نـــورې خبـــرې مـــې پـــه زړۀ پـــاتې دي
ســـوال خـــو مـــې اورې خـــو ځـــواب نـــۀ کـــوې
لا پـــه خـــوړو کښـــې دې ترخـــۀ پـــاتې دي
ســـتا د هنـــدکي بانـــه کـــه نېـــغ وي ځـــۀ شـــی
لاڅـــۀ شـــملې د پښـــتانۀ پـــاتې دي"(۱۲)

ددې دواړو غزلونـو وزن او بحـر يـو دی، خـو رديـف او قـافيې ئـې بېلـې دي.دقـافيې او رديف بېلوالي ددواړو غزلو موسيقي او رنګ هم بدل کړی دی.

پـه لـومړي غـزل کښـې(غل، دل، بـدل، تـل، حـل، وربـل، غـزل) پـه دويمـه کښـې (ګرېوانۀ، ځۀ، زړۀ، ترخۀ، پښتانۀ) دقافيې کلمې دي، ( نۀ شومه) پاتې دي) رديفونه دي.

دواړه غزلونـه يـولس ځپيـز دي، ددې غزلـو تونيـک جوړښـت داسـې دی چـې پـر هـره ځلورمـه ځپـه خـج لـوېږي، دقـافيې وروسـتۍ ځپـه دخـج ځپـه ده. بـل دا چـې دلـومړي غـزل دقـافيې وروسـتی تـوری(ل) لنډ ادا کېـږي او د دويمـې وروسـتی (ه) تـوری کـش ويـل کېـږي، دغـه د(ل) لنډ وينـګ د(ه) پـه وينـګ کښـې نۀ شـته، بلکـې (ه) زورکـي يـا واول تـر (ل) کـش ويـل کېـږي، ددې دواړو غزلـو پـه وينـګ کښـې غوړونـه دقـافيې بـدلون او اهنـګ تـه ځـک وي، نـو دې وينګ او دقافيې دهمغږو توروېو تکرار دهر غزل موسيقي برابره کړې ده.

دقـافيې دموسـيقۍ يـوه بلـه ځانګړنـه داده چـې لوسـتونکی يـا اورېـدونکی دنظـم اورېدو تـه رابـولي. دشـعر پـه زده کـړه او حـافظې تـه پـه سـپارولو کښـې سـتره ونـډه اخلـي، هغـه کسـان چـې غـواړي يـوه موضـوع حفـظ کـړي، لـه شعره کـار اخلـي، پـه شعر کښـې بيـا هغـه قـافيې چـې سـندريز شـور او يـوه ښـکلې موسـيقي ولـري، عيـب يـا کمزورتيـا ونـۀ لـري، ژر زده کېـدای شـي، کـه مـونږ نظـم واخلـو پـه نثـر ئـې واړوو، نـو هغـه راښـکون چـې مـونږ پـه

موزون کلام کښې لیده، هغه به په نثر کښې وا نهٔ ورو، دغه موزون والی، هماغه دقافیې موسیقیت دی چې زمونږ غوږونه او حواس ئې ځان ته بللي دي.

«اروپایي څېړونکي او کره کتونکي په دې باور دي چې قافیه په اروپایي شعر کښې دلومړي ځل دپاره کشیشانو (دمعبد مشران، په قران کریم کښې دقسیس په نامه یاد شوي دي)په واسطه رامنځته شوه، لامل ئې دا وچې دمسیحي لومړنیو کششانو احساس کړ چې قافیه له حافظې سره زیاته مرسته کوي، او حتی وایي ددې دپاره چې عبادت کوونکي وکولای شي دلاتین دشعر اوږدې قطعې دکلیسا مراسمو ته حفظ کړي نو له قافیې ئې کار واخست.

دا تقریبا یوه مسلمه موضوع ده چې داروپایي شعر قافیه دکلیسا له شعرونو ریښه اخستې اودغه شعرونه لکه څنګه مو چې وویل دعوامو او دکلیسا دلمونځ کوونکیو دحفظ دپاره رامنځته شوي دي، کېدای شي دکشیشانو اختراع وي او یا دنورو ژبو له قافیو نه اقتباس وي..."(۱۳)

قافیه دمېسرو تر منځ یوغږیز ترښت دی، مثلا دیوې مصرعې دقافیې دموسیقۍ غږ مو په غوږ کښې دی دبلې انتظار باسو، همدارنګه دمېسرو ترمنځ دیووالي یا ترښت تر څنګ هر بیت ئې دیو ځانګړي مفهوم پر بنسټ سره بېل کړي دي.

افرین دې په ولول تورو سنبلو
چې ئې ځای دپاسه ونیوه پ ګلو
ما چې ستا دشونډو مې سره مزه کړل
مستغني شوم دجهان له واړو ملو
که په اصل پښتنه دکوهستان ئې
دا دظلم خوی دې زده کړ له مغلو
مګر مور دې دختا دملک هوسۍ وه
چې دمښکو بوی دې رومي له کاکلو
زه په هومره تمنا کښې دا به څهٔ شي
چې ته هر کله په هومره تغافلو
دهر ګل ثنا صفت کا په زر ژبه
په دا باغ کښې چې غوغا ده دبلبلو
دخوشحال په زړهٔ ئې هسې چارې وکړې
لکه باز چې زرکه یوسي په منګولو"(۱۴)

«دخوشحال خان دپورته غزل دبیتونو دقافیې کلمې په دې ډول دي: (ملو، مغلو، کاکلو، تغافلو، بلبلو، او منګولو) چې (ل، ل) په کښې روي او (و) ئې وصل دی"(۱۵)

ددغه غزل اهنګ او موسیقي په قافیه تړل شوې ده، (لو،لو) ئې ترپایه هغه همغږي ده چې په تکراري بڼه دغزل موسیقي برابروي، او ټول غزل په همدې همغږۍ را ټول شوی دی. ددې ترڅنګ دهر بیت قافیه دیو نوي انځور او معنا زېږنده دی، دغزل هر بیت له قافیې اوبه څښي او معنا بشپړوي. دبېلګې په ډول دوه بیته را اخلو:

که په اصل پښتنه دکوهستان ئې
دا دظلم خوی دې زده کړ له مغلو
دهر کل ثنا صفت کا په زر ژبه
په دا باغ کښې چې غوغا ده دبلبلو
دخوشال په زړۀ ئې هسې چارې وکړې
لکه باز چې زرکه یوسي په منګولو"(۱۶)

په لومړي بیت کښې دمغلو قافیه دشعر تصویر او معنا بشپړونکې ده، پښتو یاپښتنه او مغول دوه متضادې معنوي کلمې دي چې دشعرمعنوي، لفظي او تصویري اړخ ئې بشپړ کړی دی.

په دویم بیت کښې بلبل دشعر مرکزي کلمه ده چې په هرګل ثنا ، غوغا ترې راخېژي او باغ په شور راولي. خبره دبلبل په شور کښې ده.

په درېیم بیت کښې منګول دبیت مرکزي کلمه ده، دباز او زرکې دپاره کارېدلې. باز او زرکه نور غږي هم لري خو دلته دمنګول راوړل دخوشال دزړۀ له وړلو سره اړیکه لري، نو دابیت هم دقافیې له برکته یو بېل معنوي او تصویري مفهوم او مانا ښندي.

په دې پورته دوو غزلو کښې قافیې معنوي موسیقي هم ساتلې ده.

معنوي موسیقي: هغه موسیقي ده چې ژبني عناصر یا توکي یوله بله سره معنوي تسلسل یا ورته والی ولري. داخلي موسیقي ئې بیا په مېسرو کښې توریو تکرار ته وایه شي.

کله ناکله داسې هم کېږي چې په یوه بیت کښې په ځانګړي تسلسل سره څو قافیې راځي، دغه دځو یا غبرګو قافیو راوړل نظم لکه دبحر څپه څپه او په یوه ځانګړي اهنګ ویشي.

لکه دروا خلې درحمان بابا دا غزل:

چــې غرقــاب شــي تــور مژګــان پــه يــم د زړۀ
نــور خــراب شــي خانمــان پــه نــم دزړۀ
عبــث وايــي غــم دزړۀ وبوالهــوس تــه
څــۀ پــوهېږي هلکــان پــه غــم دزړۀ
دا مکــان چــې دآســمان ځمکــې تــر ميــان دی
يــو خلــوت دی دا مکــان ســلم د زړۀ"(۱۷)

ددې غــزل پــه دې څــو بيتونــو کښــې (مژګــان او يــم، خانمــان او نــم، هلکــان او غــم، امکــان او سـلم) دقــافيې کلمــې دي چــې (ان او م) ئــې همغــږې برخــې دي، دغــه همغــږې برخــې دغـزل پـه يـو شـمېر نـورو مېسـرو کښـې هـم لـه يوشـمېر کلمـو سـره همغـږي سـاتي، چــې دغـو همغږيو يوه ځانګړې موسيقي رامنځته کړې ده.

پــه قافيــه وي جوړښــت کښــې کلــه نــا کلــه ديــوه تــوري اوږد ادا کــول هــم ځــانګړې موسـيقي رامنځتــه کــوی، پــه تېــره هغــه قافيــه وي کلمــې چــې همغــږې برخــه ئــې پــه اوږده خپلواک غږ پېل شوې وي.

" نــا اشــنا تــر اشــنا ښــه ئــې نــن او ګانــده
لاپــه ښــه زړۀ تــه دچــا ســره مــه خانــده
کــه ئــې لــوی دزړۀ پــه وينــو لکــه ګــل کــړې
هــم هغــه بــه پــه زړۀ در کــا لښــته تانــده
چــې تــر ســرئې ځــان لــوګی کــړې قربــانېږې
دجفــا پــه اور دې ســوځي لکــه ســپانده
خپــل پــردي تــه ځــای دطمــع پــاتې نــۀ شــو
خــدای دې نــا کــا څــوک دخپلــې چــار درمانــده
د عــزت ترخــو تــه ځــان نيــولی نــۀ شــې
پــه خــوږو پســې دمــچ غونــدې ګرځانــده
بــې اجلــه بــه ئــې خــلاص لــه درده نــۀ شــې
د بــد خــوی ســياره پــه چــا مــه شــه هړانــده
د ســتم پــه ښــکر دې غــوڅ عبــد القادر کــړ
پــه ظــاهر صــورت ســړی پــه خــوی ئــې دانــده"(۱۸)

د پورته غزل د دورونو په پای کښې په ترتیب سره دقافیې کلمې دادي:(( ګانده، خانده، تانده، سپانده، درمانده، ګرځانده، هړانده او دانده) چې هماهنګه برخه ئې په اوږده خپلواک غږ (الف) پیل شوې ده، اوهمدائې ردف باله شي، وروسته توري ئې (ن) دی چې روي ئې بولي( د) ئې وصل او (ه) ئې خروج دی. څنګه چې هماهنګه برخه ئې په اوږده خپلواک غږ پیل شوې ده نو ځکه ئې مردفه قافیه بولي"(۱۹)

په دې غزل کښې (انده،انده) همغږې برخه ده چې د(ا) اوږد خپلواک غږ دقافیې موسیقي اوږده کړې او غږ په کښې پورته ځي. له همدې(ا) سره په مېسرو کښې نور(ا) هم تکرار شوي چې دغه تکرار او دیو شمېر نورو توریو یا غږونو تکرار دکلام موسیقي برابره کړې ده.

بل هغه قافیه چې له همغږې برخه ئې غبرګ غږونه وي، دغه غبرګ غږونه هم یوه ځانګړې موسیقي رامنځته کوي. درحمان بابا په دې غزل کښې لولو:

سپین مخونه تور کودی شي په پیری کښې
سم قدونه کوږ لرګی شي په پیری کښې
لکه شمع دسحر افتاب دژمي
هم بې تاب وهم زېړی شي په پیرې کښې
یو طرف ته ئې سر رېږدي بل خوا دروي
خپل صورت تمام پردې شي په پیری کښې
دمړده و په حساب وي غزا وشوه
که څرګند لیده ژوندی شي په پیری کښې
مړ لانښه دی پس له مرګه بیا ژوندی شي
نه شته دا چې څوک ځلمی شي په پیری کښې
که څووخوري لکه زهر نه هضمېږي
نه ښه ښې نه ښه خوړی شي په پیری کښې
دا ځواني ده چې څه اورې یا څه وینې
نه لیده نه اورېدی شي په پیری کښې
ای رحمانه! پیري هسې عاجزي ده
که رستم وي زړه پرې سوی شي په پیری کښې"(۲۰)

د پورته غزل ددورونو په پای کښې (کودی، لرګی، زېړی، پردی، ژوندی، ځلمی، خوړی، اورېدی، او سوی) دقافيې کلمې دي چې هماهنګه برخه ئې د (ی- ay) غبرګغږ( دفتانګ) او ساکن دی"(۲۱)

په دې غزل کښې همدا غبرګغږونه تر پايه تکرارېږي، دغه تکرار موسېقي برابروي. ددې ترڅنګ يو شمېرنور تکراري غږونه هم شته چې له قافيې سره ئې دشعر داخلي موسېقي ساتلې ده. لکه درواخلي( دپنځوياګانو، ک، ه او...) توري.

دقافيې په جوړښت کښې دغږ جګ والی، ټيټوالی، او داهنګ زيرو بمې موزونې او منظومې وينا ته يوه ځانګړې موسېقي برابروي، دلته تر مانا وړاندې راښکون په لفظي جوړښت، موسېقۍ او اهنګ کښې دی. ډېر ځله داسې کېږي چې دغه ډول جوړښت داورېدونکي يا لوستونکي پام له مانا نه زيات دوينا موسيقۍ ته اړوي.

يو شور ئې دشهرت وشوم ورپېښ په پېښور
حمزه مې په خاموشه هديرو کښې لټاوه

دحمزه بابا په دې بيت کښې د( ش)(ې)(ښ)(و) تکرار بيت ته يوه ځانګړې موسېقي او سندريز شور بښلی دی، که مونږ ددې بيت يوه کلمه هم وخوځو يا وړاندې وروسته ئې کړو، نو هغه دغږ جګوالی ټيټوالی او زيروبمې چې دکلمو په دې ترښت کښې ده، هغه به له منځه لاړ شي، او دخاوشه هديرو شور به له شرنګه غورځېدلی وي، (هديرو) په دې بيت کښې دغزل له نورو بيتونو سره قافيه جوړوي. په دې بيت کښې دکلام له معنوي اړخه داوېدونکي يا لوستونکي زيات پام دوينا موسېقي ته اوړي.

دلته دانسان ذهن ته دموسېقۍ په باب هغه روايت تداعي کېږي چې: ((موسېقي هغه هېئت دی چې د حرکاتو او سکناتو د ترتيب او په عدد او مقدار کښې د تناسب د نظام تابع وي، چې نفس د دې هيئت له ادراک څخه مخصوص خوند اخلي چې هغه ته ذوق وايي او که موضوع ئې د تورو حرکات او سکنات وي، نو هغه ته شعر وايي...

ځينې عقيده لري چې موسېقي د الوتونکو مرغانو له غږونو څخه منځته راغلې او انسانانو هغه تقليد کړې ده او په ورو ورو ئې د اغېزې او تاثر څخه په زړه پورې غږونه او اهنګونه منځته راغلي دي...

پوهان وايي چې انسان ښکلي هنرونه له حيواناتو څخه په تقليد حاصل کړي دي او موسېقي ئې د مرغانو له اواز څخه زده کړې ده، دا خبره ډېره پرځای ده او مونږ نن د چېنايانو په موسېقۍ کښې د مرغانو اوازونو ډېر ښکلي تقليدونه ليدلی شو، له چېنايي سندرغاړي سره چې سازونه ملګري وي، نو سړی داسې خيال کوي لکه په يو

لـوی ځنګـل کښـې چـې د مرغـانو شـخول وي. عربـان وايـي چـې حيوانـات هـم لـه موسـيقۍ څخـه خونـد اخلـي او اوښ پـه دې برخـه کښـې يـو حسـاس حيـوان دی چـې د زنګـولي تـر اواز لاندې په مزلونو نهٔ ستړی کېږي.

هنـدوان وايـي : مـاران موسـيقۍ تـه پـه مستۍ راځـي، خـو بايـد وويـل شـي څنګـه چـې موسـيقي پـه لـومړی سـر کښـې مـذهبي او عقيـدوي جنبـه درلـوده، ځکـه نـو پـه لـومړي سـر کښـې د موسـيقۍ پېدا ايښـت اربـاب الانواعـو تـه منسـوب ګڼـل کېـده. يونانيـانو خپـل يـو رب النـوع چـې (اپـولين) يـا (اپولـون) نومېـده د موسـيقۍ او هنـر د رب النـوع د خـدايانو د کمـان لرونکـي د رڼـا د خـدای د پـېش ګـويۍ د خـدای پـه توګـه او نامـه سـره پرسـتش کـاوه او ستاينه ئې کوله.

وايـي چـې اپـولين د ښـکلي بـدن پيـاوړو او متناسـبو غـړو او هـوارو سـينې څښـتن و چې پـه ښـکلي څېـره کښـې ئې د ويښـتو هـېڅ نښـه نهٔ ليـدل کېـده، د هغـه تنـدی پـراخ او زلفـې ئـې بمبلـې وې، چـې کلـه بـه ئـې ترشـاه اچـولي او کلـه بـه ئـې حلقـې خـوړلې، د هغـه صـورت تقريبـاً هـر کلـه لـوڅ لغړ ښکاره ده، خـو کلـه چـې بـه اپـولين د موسـيقۍ د رب النـوع پـه تـوګ تجلـي کولـه، نـو اوږدې او چـېن لرونکـې جـامې بـه ئـې پرځـان او ګـوتې پـه ئـې د چنـګ پـه تارونو ايښودلې وې...

اپـلاتـون پـه خپـل کتـاب جمهوريت کښـې د خپـل اسـتاد سـقراط لـه قولـه وايـي: زمـا پـه ګومـان د شـعر او موسـيقۍ پـه وسـيلې د روح پالنـه د تربئـې يـو عمـده رکـن دی او لـه هغـه لـه دې کبلـه چـې وزن او اهنـګ د هغـه لطافـت سـره چـې لـري ئـې پـر روح ژوره اغېـزه لـري او لـه دې املـه هـر هغـه څـوک چـې لـه دغـه شـان تربئـې څخـه پـوره بـرخمن شـوی وي، هغـه د لطيفـې طبعې خاوند وي، اپلاتون د اهنګ دپاره درې اجزا ټاکلي : کليمات، اهنګ او وزن...

د زبـور پـه مقـدس کتـاب کښـې چـې د مزاميـرو مجموعـه ده، موسـيقي وهلـو او غږولـو نسـبت حضـرت داود تـه ورکـړل شـوی، ويـل کېـږي چـې داود ډېـر سـحرناک اواز لرلـو، هسـې چـې کلـه بـه ئـې مزاميـر لوسـتل نـو د هـوا مرغـان بـه هـم دده د غـږ اورېـدو تـه پـر زمکـه کېناسـتل ، همـدا وجـه ده چـې د پښـتو نوميـالی اديـب خوشـال خـان خټـک پـه اسـلام کښـې د موسـيقۍ د مشـروعيت سـبب هـم همـدا بـولي، نومـوړی پـه خپـل دسـتارنامه نـومي کتـاب کښـې چـې پـه پښـتو پـه زړهٔ پـورې نثـر ئـې پـه ۱۰۷۶هـ ق ليکلـی دی ، پـه دې بـاب داسـې وايـي : هغـه بـه څرنـګ سـړی وي چـې پـه سـرود ئـې حالـت حاصـل نهٔ شـي، هغـه چـې پـرې انکـار کـا، هـومره فکـر خـو دې وکـا چـې د داود پېغمبـر صـوت معجـزه وه او کـه نـهٔ، کـه سـرود بـد وای، معجزه به د داود پېغبر نهٔ وای...

کومه افسانه چې د موسيقۍ د پيدايښت په باب په هندي کتابونو کښې راغلې ده، هغه هم پردې شاهدي وايي چې اريايان ځانته د موسيقۍ د جوړښت ماهران وو، په دې افسانه کښې وايي چې کله رام د سيتا په فراق کښې اواره شو او مخ ئې پر غرو او ځنګلونو ونيوه، نو سرګردانه به ګرځېده.

يو وخت له يو ځنګله څخه تېرېده چې ګوري پورته له يوې ونې څخه بلې ونې ته بيزو ټوپ وهلو او غورځېدو په حال کښې ځيرې شوې ده، ددې کولمې له يوې ونې څخه بلې ونې کښې بندې دي او باد چې پرې لګېږي، نو يو غمجن اواز ترې پورته کېږي، دې اواز د رام د زړۀ سوز څو چنده کړ او وروسته ئې دا کولمې را واخيستلې او هغه ئې ددو لرګيو په سرو وتړلې، بيا ئې په ګوتو هغه وښورولې او اواز ئې پورته کړ چې د موسيقۍ پيدايښت او په موسيقۍ کښې د تار رواج له همدغه ځايه منځته راغي...

په دغو مالوماتو او تعريفونو کښې مو دا ولوستل چې موسيقي د کليمو او ژبنيو ترکيبونو يو اهنګين اوډون دی، هغه غږونه چې د انسان له ستوني را وځي، يو خاص رېتم لري"(۲۲)

د نظم مصرعې دلفظونو دپاره يو تار يا لړ دی چې لفظونه پرې پر يو ځانګړي رېتم يا اهنګ اوډل کېږي، دغه اوډونه دوينګ پر مهال دتوريو پر تکرار موسيقي جوړوي، لفظونه او په هغوی کښې انځورونه پر وئيلو خاص حرکت مومي. دغه حرکت يو سندريز شور اوکيف پيدا کوي چې پر لوستونکي يا اورېدونکي اغيز کوي او دهغه ذوق راپاروي.

په قافيه کښې همغږې برخه د نظم موسيقي تر پايه تړي او د لوستونکي يا اورېدونکي پام او فکر شيندلو ته نۀ پرېږدي. غوږونه ئې اورېدو ته څک وي.

قافيه ذهن ته موضوع راولي، که زمونږ ذهن په نظم کښې پر يوې قافيې موضوع راټوله کړه نو شاعرانه ذهن ته سمدستي دبلې قافيې په تداعي، نوې موضوع راځي. دا کار په طبيعي ښه په لفظونو باندې يو ښکلی اهنګين تصوير رامنځته کوي، خو هغوی چې دشعر تر ليکلو وړاندې قافيې لېست کړې وي، وينا ئې دشعر خوند و رنګ نۀ لري.

دقافيې موسيقي دتورو ترمنځ يو غږيز ترکيب يا يووالی او معنوي بېلوالی ساتي. لکه دکتاب او رباب په قافيوي کلمو کښې (اب) همغږې برخه ده، دغه برخه په نظم تر پايه يوه موسيقي او دتورويو ترمنځ همغږي ساتي خو ددواړو کلمو معنوي بېلښت هم ساتي.

قافیه پر خپل ځانګړي رېتیم یا موسېقۍ د شاعر تخییل راټولوي او په لفظونو کښې ئې رانغاړي، د تودور دو بانویل (Theodorde Banville) په وینا (( قافیه هغه زرین مېخ دی چې د شاعرانو تخیلات تثبیتوي"(۲۳)

**پایله**: په دې لیکنه کښې دقافیې موسېقي سپړل شوې ده او دا په ډاګه شوه چې قافیه دنظم دموسېقۍ په برابرولو کښې لویه ونډه اخلي، دقافیې همغږې برخه او تر همغږې برخې وړاندې دتوریو حرکات او ددوی تکرار دنظم موسېقي برابروي.

قافیه دوزن په څېر دنظم بهرنۍ او هم معنوي موسېقي برابروي.

قافیه په نظم کښې دتورویو ترمنځ ګډه اهنګین امتزاج دی چې په بیت کښې دمعنا، وزن، او انځور بشپړولو دنده لري.

قافیه نظم ته رواني ببني.

قافیه په پیغام رسولو، دیو شعر په زده کولو او حافظې ته په سپارلو کښې مهمه ونډه اخلي.

قافیه دشعر هغه مرکزي برخه ده چې نور توري پردې راڅرخي او هغوی ته یو شور او حرکت ورکوي.

❀❀❀

# حوالې


۱: شيدا ، کاظم خان (د شيدا کليات)، د حنيف خليل سريزه، دانش خپرندويه اداره، پېښور، ۲۰۱۰، ۳۴۸ مخ
۲: حقپال، محمداجان. قافيه پوهنه، دلوړو زده کړو وزارت، کابل پوهنتون چاپخونه، ۲۰۰۹، ۹ مخ
۳: شفيعی کدکنی، محمدرضا (1373) موسيقی شعر، چاپ چهارم، تهران، آگاه ۳۹۱ - ۳۹۳ مخونه
۴: حقپال، محمد اجان، قافيه پوهنه، ۸۴ مخ
۵: مومند، عبدالحميد، (کليات) د محمد اصف صميم سريزه، دانش خپرندويه اداره، پېښور، ډهکي نعلبندي، قصه خواني، ۲۰۱۰، ۱۳۳ مخ
۶: خټک، خوشحال، (کليات) د عبدالقيوم مشوانې زاهد په زيار، دا نش خپرندويه اداره، پېښور، ډهکي نعلبندي، قصه خواني، ۲۰۰۵، ۹۷ مخ
۷: پسرلی، محمد صديق، غزل بڼ، د ميدان وردګ ولايت فرهنګي ځانګه کابل، ۰۰۹، ۱۰۰ مخ
۸: حقپال، محمد اجان، قافيه پوهنه، ۱۳۷ مخ
۹: شينواری، حمزه، (کليات) د محمداصف صميم په زيار، د اطلاعاتو فرهنګ وزارت، کابل، ۲۰۱۰، ۱۱۰- ۱۱۱ مخونه
۱۰: ايضاً، ۱۲۱ مخ
۱۱: ايضاً، ۲۱۲مخ
۱۲: ايضاً، ۱۱۷مخ
۱۳: حقپال، محمد اجان، قافيه پوهنه، ۸۵مخ
۱۴: خټک، خوشحال، کليات، ۹۰مخ
۱۵: حقپال، محمد اجان، قافيه پوهنه، ۸۰
۱۶: خټک، خوشحال، کليات، ۸۰ مخ
۱۷: عبدالرحمن بابا، (کليات) دحنيف خليل سريزه، شپږم چاپ، دانش خپرندويه اداره، ډهکي نعلبندي، قصه خواني پېښور، ۲۰۱۴، ۱۳۴مخ
۱۸: خټک، عبدالقادر، (کليات) د پروفيسور جهان زېب په زيار او د ډاکتر راج ولي شاه خټک په سريزه، پښتو اکاډمي، پېښور،

ملت ایجو کېشنل پرنټرز، لاهور، ۲۰۰۲، ۲۱۵ مخ

۱۹: حقپال، محمد اجان، قافیه پوهنه، ۶۹مخ

۲۰: عبدالرحمن بابا، کلیات، ۱۱۲ مخ

۲۱: حقپال، محمد اجان، قافیه پوهنه، ۳۳ مخ

۲۲: ازمون، لعل پاچا، پښتو فولکلوري ادبیات، کابل پوهنتون، اکسوس خپرندویه ټولنه، کابل، ۲۰۱۶، ۹۸- ۹۹ مخونه

۲۳: شفیعی کدکنی، محمدرضا، موسیقي شعر، ۱۰۰مخ